
چمتو والي کچه

education above all
التعليم فوق الجميع

storyweaver PRATHAM BOOKS

# وړکۍ وزه



**ليکوال:** مرنا لاورينس
**انځورګر:** نيامبورا کاريوکي

THE YALDA HAKIM FOUNDATION
Educate-Empower-Inspire


Smile Please(Pashto), Published by Pratham Books, under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver .

ورکۍ وزه د تر ټولو خوږو وښو د موندلو لپاره روانه شوه.
پاس اسمان شين و. خو هغې پورته نه کتل.





لاندې سیند په شنهار بهېدو.
خو وړکۍ وزې د دې نغمې ته غوږ و نه نیو.




یوې مرغۍ پر دې غږ وکړ،
ویل یې، "ته څنګه یې؟"



خو وړکۍ وزې ځواب ور نه کړ.


هغه بس د تر ټولو خوږو وښو په لټه کې پر
لار روانه وه.

د مزل کولو په ترڅ کې، وړکۍ وزه له خپل وزې مور
څخه ډېره لېرې ولاړه.



ورکۍ وزې تر ټولو خواږه واښه پیدا کړل.
هغې په مزه مزه وخوړل.



هغه له وزې مور څخه لېرې تللې وه.






وزه مور په دې فکر کې وه چې وړکۍ وزه چېرته تللې ده.
هغې د جوارو په کښت کې لټه وکړه، خو وړکۍ وزه هلته نه وه.

وزې مور د سيند پر لور منډه کړه.
خو وړکۍ وزه هلته نه وه.

”وړکۍ وزې، چېرته يې؟“ وزې مور
په ژړغوني غږ فرياد وکړ.






یوې مرغۍ وزې مور باندې غږ وکړ. ”وړکۍ وزه د
پله هاخوا په خوږو وښو کې ویده ده.“



وزه مور له پله واوښته چې خوږ و
وښو ته ځان ورسوي.



هلته هغې وړکۍ وزه پیدا
کړه چې ډوبه ویده وه.



”وړکۍ وزې، بیداره شه،“ وزې مور په
نرم غږ سره ووېل. ”ته ورکه شوې وې!“



“”زه ورکه نه وم... ما ټول وخت
همدلته تېر کړ! ” وړکۍ وزې ووېل.





## لارښودونکې پوښتنې

1. وړکی وزه د څه شي پیدا کولو هڅه کوي؟
2. تاسې ته د وزو باره کې کوم واقعیتونه معلوم دي؟ آیا تاسې یوه وزه تشریح کولای شئ؟
3. ستاسې په اند وړکی وزې څه وکړل؟ آیا تاسې کله سرګردانه او ورک شوي یاست؟ څه وشول؟
4. کله چې وړکی وزه ورکه شوه، مور وزې څه احساس درلوده؟
5. وزې خنګه مونږ د پاره ګټورې دي؟